متوازنه پرمختیا په دې دریو برخو کې پرمختګ ته اړتیا لري: د امنیت ټینګښت، د قانون حاکمیت او متوازنه اقتصادي پرمختیا. دغه درې برخې له یو بل سره خپل‌منځي اړیکې لري. د امنیت ټینګښت د هېواد په ټولو ولسوالیو کې د افغان امنیتي ځواکونو په شتوالي پورې تړلی دی. مونږ په دې باور یو، چې د وخت په تېریدو سره، په را روانو څلورو کلونو کې به د امنیتي ځواکونو په دوامداره پرمختګ او هوایي ځواکونو درې برابره کېدلو او ځانګړو ځواکونو په دوه برابره کېدلو سره به پر ټول هېواد د امنیتي ځواکونو واک رامنځته شي. د ارزښت وړ ټکی دا دی، چې د ځوانو رهبرانو یو نوی نسل د دفاعي ځواکونو او پولیسو په تشکیلاتو کې د لوړو بستونو د ترلاسه کولو په حال کې دي. په همدې ترتیب سره د ملي پولیسو په لیکو کې د اصلاحاتو عملي کولو بهیر پیل شوی دی. له ترهګرۍ سره له مبارزې د هېوادوالو د امنیت ټینګښت ته د پولیسو تمرکز په موخه، د عامه نظم او پوله ساتو ځواکونو تشکیل له کورنیو چارو وزارت څخه لېږې شو.

دویمه دا چې متوازنه پرمختیا د قانون حاکمیت ته اړتیا لري. په اسلامي فقه کې ،عدالت د یو دولت بنسټ جوړوي او افغان عالمان د اسلامي فقهې د عملي کیدو بېلګې او د هغې د درناوي اوږده مخینه لري. خو زمونږ تاریخ وایي، چې په تېر کې داسې پړاوونه هم ول، چې عدالت په کې په سمه توګه نه وو پلی شوی. د دغو پړاونو د تشکیل لاملونه د بهرنیانو یرغلوونه او کورنۍ جګړې وې، چې د دولتونو د ټوټه کیدو لامل شوي وو.

د دغه ډول بدلونونو پیښیدل زیات لاملونه لري، خو اصلي لامل یې همغه په سوله‌ییزه بڼه د زعامت مقام ترلاسه کولو لپاره د یو ټولیز میکانیزم نشتوالی دی. د هېواد اساسي قانون، چې له ډېرو مشورو او بحثونو وروسته تصویب شو، داسې یو چوکاټ وړاندې کوي چې پر بنسټ یې راتلوونکې ثبات د خلکو له‌خوا د ډیموکراتیکې حکومتولۍ له لارې تضمین شي. د اساسي قانون دحکمونو پر بنسټ، به هڅه وکړو، چې په راروانه کې د عدالت د ټینګښت په برخه کې متوازنه او اوږدمهاله تګلاره وړاندې کړو.

دریم دا چې متوازنه پرمختیا د هستوګنې ځای ته له پاملرنې پرته ټولو افغانانو ته د اقتصادي فرصتونو رامنځته کولو اړتیا لري. له همدې امله مونږ داسې یو اقتصادي موډل رامنځته کړی، چې پر بنسټ یې سیمه ییزه اقتصادي ستراتیژیو او بنسټونو ته ډېرپام اړول شوی . مونږ همدارنګه په سیمه‌ییزه کچه هم د اصلاحاتو وړاندېز کړی او سیمه ییزه اقتصادي ستراتیژیو ته مو په سیمه‌ییزه کچه تړاو ورکړی دی. په دې باور یو، چې د دغو اصلاحاتو عملي کیدل به په افغانستان کې متوازنې، رڼې او خوندي پرمختیا ته زمینه برابره کړي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس**

## لنډیز

دغه پالیسي د افغانستان د سیمه‌ییزه ادارو په اړه په یوې تولیزې مطالعې سره پیلېږي. ورپسې به د حکومتولۍ پر وړاندې د ننګونو او د بیخبناوو(زیربناوو) د ننګونو په ګډون د سیمه‌ییزې ادارې د پرمختیا پر وړاندې ننګونو ته کتنه وشي.پر عمده ننګونو به، چې د سیمه‌ییزې حکومتولۍ د قوانینو امقررو نوي کول، د ولایتونو او ښاروالیو د درجه‌بندۍ معیارونو بیاکتنه او د ولسوالیو په کچه د اصلاح شوې حکومتولۍ بیخ بناوې دي، بحث وشي. دریم، مونږ باید د دغه لړلید د پلي کیدو په حقوقي اړتیاوو بحث وکړو.

په دغه موضوع کې د سیمه‌ییزه ادارو، ښاروالیو او ولایتي شوراګانو د قوانینو نوي کول او بیاکتنه شاملېږي، چې دسیمه ییزه ادارو او د سیمه یزه شوراګانو جامع (ولایتي، ولسوالۍ او کلیو) قانون به جوړشی. څلورم، موږ د سیمه‌ییزه ارګانونو ادارې او د هغو بنسټونو چارې چې د دغه لید لوري د یوې سترې برخې د پلي کیدو مسؤلیت لري کتنه کوو او په لنډه توګه به خپل وړاندیزونه مطرح کړو.

## د افغانستان سیمه ییزه حکومتولۍ جوړښت ته کتنه

افغانستان کولای شی د ۸ اقتصادي حوزو لرونکې اوسي، افغانستان ۳۴ ولایتونه، ۳۸۷ ولسوالۍ، ۱۶۵ ښاروالۍ او ۴۵۵۳۸ کلي لري. دا چې د هېواد د حکومتولۍ سیستم متمرکز دی؛ د کورنیو چارو وزارت د پولیسو او څایي بنسټونو په ګډون، ټولې کورنۍ چارې اداره کولې. په۱۳۸۶ه ش کال کې د سیمه ییزه ادارو ملکي برخه، د کورنیو چارو له وزارت څخه را بیله او په پایله کې د سیمه ییزه ارګانونو اداره رامنځته شوه. اوسمهال ټول والیان او ښاروالان خپل کاري ګزارشونه د سیمه‌ییزه ارګانونو اداړې له لارې جمهور رئیس ته وړاندې کوي. د سیمه ییزه ارګانونو اداره دسیمه ییزه ادارو د مدیریت په موخه، والیان، ولسوالان او ښاروالان د مقررۍ لپاره جمهور رئیس ته وړاندېز کوي. هره یوه له دغو ادارو څخه د هېوادوالو د یوې ارتباطي برخې په توګه فعالیت کوي.




په هر حال، د سیمه ییزه ادارو د حکومتولۍ په اوسني سیستم کې یو لړ کلیدي ستونزې شته. لومړی دا چې موږ لا تراوسه له قول اردوګانو پرته، د اقتصادی ستراتیژیو رامنځته کولو په موخه له ولایتي کچې څخه را بهر شوي نه یو. دویم دا چې زموږ د ولایتي حکومتولۍ د جوړښت په برخه کې قانون جوړونه په سمه توګه نه ده ترسره شوې. د ولایتونو مدیریت د والیانو په لاس د واک له تمرکز څخه پیل تر کوچني رول پورې، چې هغه د ولایتي شوراګانو د همغږۍ چارې دي، مسایل رانغاړي، چې مدیریت یې یوازې پر امنیتي مسایلو متمرکز دی. دریم داچې پر ځینو ولسوالیو د دولت واک په ټیټه کچه حتی صفر کې دی. دغې چارې یوه امنیتي او عدلي تشه رامنځته کړې ده، چې د دولت ضد عناصر د دغې تشې د ډکولو په هڅه کې دي.

د ښاروالیو چارې په نسبي توګه زیات وضاحت لري. د ښاروالیو قانون د ښاروالیو اساسي مسوولیتونه ټاکلي دي. دغه قانون ښاروالیو ته اجازه ورکوي، چې د یوازیني سیمه ییز بنسټ په توګه د خپلو خدماتو په بدل کې له ښاریانو محصول واخلي. د هغوئ د خدماتو وړاندې کولو اساسي جوړښت تر دې مهاله اغېزناک نه دی، خو لړ تر لړه روڼ دی. سره له دې، چې اساسي قانون وضاحت لري، چې ښاروالان باید انتخابي وي، خو تر اوسه دغه کار نه دی ترسره شوی. خو له نیکه مرغه ، چې موږ د سیمې په کچه ډیر بریالیتوبونه لرو. د ملي پیوستون پروګرام او د هغه ځایناستی (ولسي ترون) د کلیو د ودې اخیستې لپاره یو څرګند او ټینګ چوکاټ چمتو کړی دی. افغان دولت د کلیو شوراګانو رامنځته کولو او د بلاعوضه مرستو چمتو کولو له لارې وکولای شول، چې د هېواد په کچه زرهاوو کلیو ته د د خپل واک لمنه وغځوي. سر بیره پردې د ولسی ترون پروګرام پراختیا موندلې تر څو ښاري سیمې تر خپل پوښښ لاندې راولي. دغه سیمه ییز بنسټونه په لاندې جدول کې خلاصه او وروسته بیاله جزئیاتو سره تشریح شوي دي.

## سیمه‌ییزې کلیدي کچې

| اداري دفترونه | لنډیز |
|---|---|
| ملي | د سیمه ییزه ارګانونو اداره په ۱۳۸۶ هـ ش کال کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د ملکي چارو د تنظیم په موخه جوړه شوه. د ټولو ولایتونو، ولسوالیو او ښاروالیو اداري د سیمه ییزه ارګانونو اداري له لارې جمهور رئیس ته راپور ورکوي. |
| سیمې (زونونه) | د افغانستان اوه اساسي زونونه د نظامي قول اردوګانو او پولیسو سره هم ردیفه دي، موږ په پام کې لرو، چې د مرکزي زون او اوه زونونو د سیمه ییزې اقتصادي ودې په موخه، د اړوندو اقتصادي ادارو استازولی جوړې کړو. |
| ولایتونه | افغانستان ۳۴ ولایتونه لري، چې د هر یو په سر کې یې والي او د اړونده وزارتونو رئیسان قرار لري. همدارنګه عدلي او قضایي بنستونه هم د ولایتونو په مرکزونوکې شتون لري. |
| ولسوالی | د ولسوالیو په ادارو کې ولسوالان، د نورو وزارتونو او اړوندو ادارو دریمه درجه واحدونو مسؤلان، امنیتي او دفاعي مسؤلان او د ولسوالیو د عدلي او قضایي بنستونه شاملیږي. |
| ښاروالی | په افغانستان کې له ۱۶۵ څخه زیاتې ښاروالۍ شته، چې د ۱۳۷۹ هـ ش کال کې ښاروالیو د تصویب شوي قانون پر بنسټ اداره کېږي. |
| کلي | د ملي پیوستون او ولسي ترون پروګرامونو، د سیمه‌ییزې حکومتولۍ دلمړنې جوړښت په توګه د کلیو پرمختیایي شوراګانو د رسمي کیدو په برخه کې مرسته کړې ده. |

### (۱) زونونه

موږ خپل تحلیل له ټولو ستر سیمه‌ییز واحد څخه، چې زون دی، پیلوو زونونه په افغانستان کې کابو شپږو اکولوژیکي زونونو او پنځو سیند یزو حوزو ته اطلاقیږي. دا په داسې حال کې ده، چې دغه زونونه جلا سیاسي واحدونه نه دي. افغانستان کولی شي د اتو زونونو لرونکې وي، چې د اوه قول اردوګانو او د پولیسو د مرکزو سره هم ردیف دي. د سیمه ییزې اقتصادي ستراتیژۍ د پرمختیا لپاره به له سیمه ییزه واحدونو څخه کار واخستل شی. د دا ډول نوښت لپاره څینې پخواني تجربې موجودي دي ، په افغانستان کې د هلمند او ننګرهار پرمختیایي اداري له لسیزو راهیسي شتون لري. د اوبو او برېښنا وزارت په جوړښت کې د افغانستان د اوبو حوزو اړوند پنځه ریاستونه لرو. په دې برخه کې د امریکا (د تینسي اداري) او د پاکستان د ( لاهور د پراختیا اداري) څېړنې شتون لري.

لکه څرنګه چې مونږ د پلازمېنې پرمختیایي خپلواکه اداره لرو. مونږ به د دغې پالیسی د تطبیق له لارې اوه، د زونونو پرمختیایی اداری را منځته کړو. هره سیمه ییزه پرمختیایي اداره په اړوند زون کې د پرمختیایي پروژو د طرحې، پلانونې، پلي کیدو او  څارنې مسؤلیت لري. یا په بل عبارت دغه اداري د پروژې خاونداني دي. هره سیمه ییزه پرمختیایي اداره به د یو دولتي شرکت په بڼه جوړه شي.

پر سيمه ييزه زونونو تمرکز به عمده ګټې را منځته کړي. په لومړي ګام کې به موږ متوازنه اقتصادي جغرافيايي پرمختيا رامنځته کړو. تر دې مهاله دپرواقتصادي پروګرامونو او پاليسيو په کابل کې د پروژو پر تطبيق تمرکز درلود او يوازې کم شمېر پروژې د ځينو ولايتونو په مرکزونو کې پلې شوې دي. په دويم ګام کې به دې ډول تمرکز سره وکولی شو، پاليسي جوړونه د هغو له تطبيقي دندو څخه په روښانه بڼه جلا کړو په اوس مهال وزارتونه د خپل وخت او منابعو لويه برخه د پروژو په تطبيق مصرفوي چې دا بايد بدلون ومومي. وزارتونه بايد پاليسي او قانون جوړونکي وي او د زون پراختيايی اداري بايد ددغه پاليسو تطبيق کوونکې اوسي. په درېم قدم کې به د زون پرمختيايي اداري د زونونو ترمنځ د تکميلي پرمختيا سبب وي. دغه چاره به د ترانزيتي ادغام او هغو سيمه ييزه اقتصادي پروژو د مديريت، چې شايي په بېلابېلو زونونو کې وجود ولري ښه والي راولي .



## د افغانستان د زونونو لنډيز

| زون | ولايتونه | نفوس | لنډيز |
|---|---|---|---|
| پلازمينه | کابل، پنجشير، کاپيسا، ميدان وردګ او پروان | ۷,۱۷۹,۷۲۷ | دغه زون د کابل د موجوديت په بنا د افغانستان تر ټولو لوی زون دی، توليدات د دغه زون اقتصادی کليدی ساحه حسابيږي، د کابل سيندیزه حوزه د دغه زون کليدی سيندیزه حوزه ده، د پلازمينې د زون پرمختيايی اداره چې له ورانديې را منځته شوی له هغې څخه د نورو زونونو د پرمختيايی ادارو لپاره د نمونه يی موډل په توګه استفاده کيږی . |
| ختيځ | ننګرهار، لغمان، کنړ او نورستان | ٤,۳۷۱,٦٤٠ | دغه زون له مرکزي زون سره وصل شوی او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کليدي سوداګريز دهليز په توګه فعاليت کوي. دغه زون سرشاره او پريمانه کرنيزو سرچينو لرونکي دی. ننګرهار منرالي سرچينې او نورستان د بنوالی اقلام لري. بناً دغه زون کولی شي د کليدي ترانزيتي واحد او د کرنيزو توليداتو د پروسس مرکز په توګه فعاليت وکړي. |
| سويل ختيځ | پکتيا، خوست، لوګر، پکتيکا او غزني | ۳,۲۲۲,٤۲۸ | دغه زون د کليدي ترانزيتي واحد په توګه فعاليت کوي او د بنوالی عمده اقلام توليدوي لکه جلغوزی. |
| جنوب | کندهار، هلمند، نيمروز، ارزګان او زابل | ٤,۳٥۸,۱۹۲ | ددغه زون کليدي سيندیزه حوزه د هلمند سيند دی، زياتي کرنيزي ځمکي لري، ايران او پاکستان ته د کليدي ترانزيتي حوزې په توګه عمل کوي. |
| مرکز | باميان، دايکندي او غور | ۲,۰۲۲,۷۸۹ | دغه زون تر ټولو کوچنی زون دی؛ خو د مهم ترانسپورتي دهليز په توګه فعاليت کوي،او له اوه زونونو څخه شپږ يې سره نښلوي. |
| لويديځ | هرات، بادغيس او فراه | ٤,۰٤۰,٦۳۱ | دغه زون د هريرود او هلمند سينديزو حوزو سره ګډيږي. ددغه زون کليدي ځانګړنې د هرات په شاوخوا کې له توليدي ساحو او له ايران او ترکمنستان سره سوداګري ده. |
| شمال | بلخ، سمنګان، جوزجان،سرپل او فارياب | ٤,٤۷٤,۳۹۷ | دغه زون يوازې د شمال له سيندیزې حوزې سره اړيکه لري. کليدي ځانګړنې يې له عمده کرنيزو ساحو،د ازبکستان سره له سوداګريزو اړيکو او د هايدروکاربن عمده زيرمې دي. |
| شمال ختيځ | کندز، تخار، بغلان او بدخشان | ٤,٥٤٥,۳۰۳ | دغه زون د امو سيند له سينديزې حوزې سره اړيکه لري. کليدي ځانګړنې يې زياتي کرنيزې او له طبيعي سرچينو ډکې ځمکې دي. |
| ټولګه | ۳۴ ولايتونه | ۳٥,۷۱٥,۱۰٦-پنځه ديرش ميليون اوه سوه پنځلس زره يو سل شپږ | |

د زون پرمختيايي اداړې به يو ګډجوړښت ولري، چې په هغو کې به اړوند وزارتونه او همدارنګه(له دريو سکتوري ريسانو سربېره)په سيمه کې د تر ټولو ستر ولايت د والي، ولسوال او ښاروال دفترونو په ګډون د بورد درې دوراني

غړي شامل وي. د زونونو استازي به په دوراني بڼه ټاکل کېږي، چې په دې کار سره به ډېرو ولایتونو، ولسوالیو او ښاروالیو ته د استازیتوب فرصت برابر شي.

د زون پرمختیایي اداري به د والیانو، ولسوالانو او د ولایتونو، ولسوالیو، ښاروالیو او کلیو شوراګانو په ګډون له فرعي بنسټونو سره ښه همغږي کوي. د دغه ډول سیمه ییزه پرمختیایي بنسټونو جوړول د اقتصادي ودې لامل کېږي او په سیمه کې به د جغرافیایي- اقتصادي ودې د بدلون او د سیمې ترمنځ د مثبت رقابت یو ډول رامنځته کړي. د هر زون پرمختیایي بنسټ به د یو دولتي شرکت په بڼه په چټکۍ سره رامنځته شي، دغه چاره د ۱۳۹۷ هـ ش کال له پای ته رسیدو مخکې ترسره کېږي.

## (۲) ولایتونه:

افغانستان ټول ۳۴ ولایتونه لري، چې د هر ولایت سیمه ییزه اداري د مرکزي دولت استازیتوب کوي. د سیمه ییزه ادارو د قانون مطابق، هر ولایت د وګړیو (نفوس) د شمېر په تناسب او اقتصادي پراختیا پر بنسټ په لومړیو، دویمو او دریېمو درجو سره درجه‌بندي شوي دي. له دغې ډلبندۍ څخه به د اساسي سرچینو د تخصیص لپاره استفاده وشي. په همدې حال، د سیمه ییزه ارګانونو اداره په پام کې لري، چې د نفوسو د انډول رامنځته کولو په موخه، د ولایتونو او ولسوالیو د پولو د بیاځلي سنجولو لپاره یو بهیر پیل کړي، چې بودجوي او د سرچینو د تخصیص اغېزې به له ځان سره ولري.

د سیمه ییزه ارګانونو اداره به د درجه بندۍ پر دغه سیستم سربېره، په لاندې دریو کټه ګوریو کې ځینې معیارونه طرحه کړي: (۱) سیاسي شاخصونه: د بېلګې په ډول، د ولایتی شورای ټاکنې ترسره شوی دي، (۲) اقتصادي شاخصونه: د ملي ناخالص تولید کچه، د ودې نرخ، د سوداګریز وضعیت اقتصادي سروېګانې. (۳) ټولنیز شاخصونه: په ښوونځیو کې د ماشومانو سلنه، په ښوونځیو کې د کال د شمولیت منځنۍ کچه، روغتیایي شاخصونه او داسې نور. د معیارونو دغه د امتیاز ورکونې کارتونه به د هڅونې مالي مرستې د تخصیص لپاره د ارزونې د یوې برخې په توګه وکارول شي.

په ولایتي مدیریت کې، د ولایتي حکومتولۍ له اړخه، په پراخه کچه توپیر لیدل کېږي. له بل لوري، د ځینو ولایتونو والیان د واکمنو حاکمانو او ځینې نور د بېلابېلو بنسټونو ترمنځ د همغږي کوونکیو په توګه عمل کوي. د ولایتي شوراګانو قانون پر بنسټ، منتخبې ولایتي شوراګانې د سیمه ییزې اداري پر کړنو د څارونکو په توګه عمل کوي.

په پام کې ده، چې د والیانو او نورو اجرائیوي چارواکو د فعالیتونو قانونیت او مشروعیت لپاره د سیمه ییزه ادارو پر قانون بیا کتنه وشي او د ۲۰۱۹ م کال تر پایه پلې شي. دغه قانون به د والیانو، ولسوالانو او ملکانو، کلیدي مسؤلیتونه او دندې مشخصې کړي او د شوراګانو قانون تر څنګ به د یو حمایوي یا ملاتړي سند په توګه تطبیق شي.

### (۳) ولسوالۍ:

په دې برخه کې به د ولسوالیو په کچه د حکومتولۍ طریقې مطالعه شي. افغانستان په ټوله کې ۳۸۷ ولسوالۍ لري. د سیمه ییزه ادارو له قانون سره سم، دغه ولسوالۍ د نفوسو، چاپېریالي او ټولنیزو جوړښتونو پر بنسټ، په لومړیو، دویمو او درېمو کټه ګوریو باندې وېشل شوي دي. دغه صنف بندي به د اساسي سرچینو د تخصیص په توګه د استفادې وړ وګرځي. خو د ولسوالیو د فعالیتونو د سنجش او همدارنګه د هغوی لپاره د تشویقي بودجې د تخصیص په هدف به د ولایتونو لپاره د کټه ګورۍ له همغو معیارونو (لکه اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو شاخصونو) څخه استفاده وکړو.




سربېره پر دې، وړاندیز کوو، چې د هیواد ټولې ولسوالۍ دې په لاندې ډلبندۍ ووېشل شي: (۱) ښاري (۲) نیمه ښاري (۳) ترانزیتي (۴) د طبیعي سرچینو لرونکي (۵) سرحدي. همدارنګه کولی شو له دغې صنف‌بندۍ څخه د ولسوالیو د فعالیتونو د سنجولو لپاره،د یوې برخې په توګه کټه پورته کړو. د بېلګې په توګه، سره له دې، چې یو ولسوال کولی شي هر ډول ولسوالۍ رهبري کړي، خو د هرې ولسوالۍ لپاره ستراتیژۍ توپیر کوي. د ښاري ولسوالیو اړتیاوې د طبیعي سرچینو لرونکو له اړتیاوو څخه توپیر لري. اړوندې شوراګانې د ولسوالیو د سیمه ییزه ادارو د څارنې مسؤلیت پر غاړه لري، چې په هغو کې ولسوالان، د درېمو واحدونو مسؤلین او د ولسوالیو امنیتي او دفاعي مسؤلان شاملېږي. لاندې د پورتنۍ کټه ګورۍ له مخې د هرې یوې لنډه یادونه شوې:

- **ښاري:** هغه ولسوالۍ، چې تر ټولو ډېر نفوس لري او د سرچینو تر ټولو ډېر تخصیص ته اړتیا لري.
- **نیمه‌ښاري:** دغه ولسوالۍ د ښاري ولسوالیو په شاوخوا کې موقعیت لري او تر ډېره د خپلو نږدې ښاري ولسوالیو فعالیتونو پورې تړلي دي.
- **ترانزیتي:** له دغو ولسوالیو څخه عموماً د ترانزیت لپاره استفاده کېږي او د زیات نفوس لرونکي نه دي.
- **د طبیعي سرچینو لرونکي:** دغه ولسوالۍ د طبیعي سرچینو پراخې زېرمې لري او د کانونو او پټرولیم، کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارتونو او چاپېریال ساتنې ادارې له لورې اضافي سرچینو ته اړتیا لري.
- **سرحدي:** دغه ولسوالۍ د نفوسو د راټولیدو له مرکزونو څخه لیرې دي او له پولو سره په ګاونډ کې موقعیت لري، چې کولی شي د ترانزیتي دهلیزونو په توګه ښه رول ولوبوي. بعضې وختونه دغه ولسوالۍ د سر شاره طبیعی منابعو لرونکې وي، د ملي انسجام لپاره اړتیا ده دغو ولسوالیو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

موږ لږ تر لږه د ولسوالۍ په کچه د اداري مسؤلینو دندې په پام کې نیسو. اوسمهال ډېرى ولسوالانو خپل رول او نقش ته اداری رول په توګه فکر کوي. خو د هغوی په دندو کې لاندې موارد هم شامل دي:

- **اداري دندې:** چې د سیمې د خلکو اړیکو او ارتباطاتو ته شاملېږي؛

**د ولسوالانو دندې**
۱. اداري دندې
۲. د امنیت ټینګښت
۳. د عدالت ټینګښت
۴. د بازارونو پراختیا
۵. د خدماتو وړاندې کول

- **د امنیت ټینګښت:** اړتیاوې سنجول او له امنیتي بنسټونو سره همغږي؛
- **د عدالت ټینګښت:** داډ حاصلول چې په هره ولسوالۍ کې باید د محکمې سیستم او د لویې څارنوالۍ استازولي موجوده وي؛
- **د بازارونو پراختیا:** د ولسوالیو د مرکزي بازارونو لپاره د سیمو پراختیا او همدارنګه د کلیو او ولسوالیو د مرکزونو ترمنځ د اړیکو ټینګښت؛
- **د خدماتو وړاندې کول:** د روغتیایي او تعلیمي خدمتونو وړاندې کولو په چاره کې د همغږې کوونکي په توګه عمل کوي.

## (۴) ښاروالۍ:

افغانستان ۱۶۵ ښاروالۍ لري، چې په ۱۳۷۹هـ ش کال کې د ښاروالیو د تصویب شوي قانون له مخې اداره کېږي. همدارنګه ښاروالۍ یوازینې سیمه ییز بنسټونه دي، چې د عوایدو راټولولو حق ورکړل شوی دی. مونږ به د ښاروالیو په کچه د ډیرو مثبتو بدلونونو شاهدان اوسو.

- **قلعه نو (بادغیس):** ښاروال د ښځو لپاره یو سوداګریز مرکز رغولی دی، چې په دې وروستیو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني له خوا پرانستل شو. دغه سوداګریز مرکز په دوو پوړونو کې رغول شوی او په هغه کې د ښځینه پانګوالو لپاره ۴۶ دوکانونه موجود دي.
- **میمنه (فاریاب):** دلته ښاروالۍ د ملي فستیوالونو او غونډو په څېر محفلونو لپاره یو پرانستی سالون رغولی دی. د دغه سالون جوړولو لپاره د میمنې ښار د ښاري پراختیا له بودجې څخه ۴ میلیونه افغانۍ لګول شوي دي.
- **چاریکار(پروان):** د چاریکار ښاروالۍ پردې بریالۍ شوې، چې د ښار کلیدي برخو کې د کثافت دانیو په ځای پرځای کولو سره، د جامدو کثافاتو راټولول، ښه مدیریت کړي.

له دې سره سره، د ښاري حکومتوالۍ ډیرې ستونزې په خپل ځای پاتې دي

**لومړی**، د ښاروالیو موجوده ۱۳۷۹هـ ش کال نافذ قانون ډېر زوړ دی چې په هغه کې د ښاروالیو او ښاروالانو مسؤلیتونه په کره توګه نه دي تشخیص شوي. موږ د ښاروالیو قانون پر نوې مسودې کار کوو او هیله مند یو، چې د ۲۰۱۸ م کال له پای ته رسیدو مخکې بشپړه شي. په دغه چاره کې د زون بندۍ په طرزالعمل کې بدلون هم شامل دی. اوس مهال ښاروالیو د اړوندو ښاري ناحیو لپاره تفصیلي طرحې جوړوي. په همدې حال کې، د کابل ښاروالۍ یوازې درېمه برخه تفصیلي او کره طرحې لري. موږ د بدلون نه منوونکې تفصیلي ډیزاین ډېر څخه وځو او د زون بندۍ یو انعطاف منوونکي ډېر پیلوو.

دویم، سره له دې، چې ښاروالیو ته د عوایدو لرلو واک ورکړل شوی، خو ځینې ښاروالۍ نه‌شي کولی، چې کافي عواید راټول او حتی د خپلو کارکوونکو تنخواوې ورکړي. د یادونې وړ ده، چې په دې اړه د قانون په بیا تسوید سره به موږ ښاروالیو ته د عایداتي سرچینې په توګه یو مالي موډل هم چمتو کړو، چې د هغه پر بنسټ به ښه توګه اساسي خدمتونه وړاندې کړای شي.

درېیم، حتی هغه ښاروالۍ، چې ښه عاید ترلاسه کوي، د خدماتو وړاندې کولو ډېر بې کمزوری دی. کثافات ډېری

وخت نه راټولېږي، سړکونو او اساسي بیخبناوو پراختیا نده موندلې. په عین حال کې، باید اعتراف وکړو، چې زموږ ښاروالیو ته د ځینو هېوادونو په څېر د خدماتو وړاندې کولو لپاره صلاحیتونه نه‌دي ورکړل شوي. د بېلګې په توګه، د برېښنا خدمتونه د برېښنا شرکت له‌خوا وړاندې کېږي، د اوبو رسول د اوبو رسوني شرکت له‌خوا ترسره کېږي، امنیت د کورنیو چارو وزارت له‌خوا نیول کېږي او عدالت د لوی څارنوالۍ او سترې محکمې له‌خوا ټینګېږي. له همدې امله ښاروالیو ته د ورکړل شویو صلاحیتونو د حدودو په اړه غور کېږي او هغو ښاروالیو ته، چې وړتیا یې ښودلې، د لا زیات واک ورکولو لپاره یو میکانیزم په پام کې لرو.



**څلورم**، موږ به په بشپړه روڼتیا او د مشارکتي حکومتوالۍ له اصولو سره سم، د وړتیا لرونکو ښاروالانو د هڅونې په موخه یوه اندازه مالي امکانات د ښاروالیو د تشویقي مالي مرستې په توګه ځانګړې کړو. د لازیاتو صلاحیتونو د تفویض لپاره به د سنجونې معیارونو عین چوکاټ (سیاسي، اقتصادي او ټولنیز) د ښاروالیو د ارزونې او د ښاروالۍ بودجې د تخصیص لپاره هم د استفادې وړ وګرځي.

**پنځم**، موږ باید د ښاروالیو د سرحدونو ټاکلو او نښه کولو موضوع هم په پام کې ونیسو. د ښاروالیو ډېرى اوسنۍ پولې په تېرو لسیزو کې، هغه هم داسې مهال، چې د ښارونو نفوس څو برابره کم ؤ، ټاکل شوې دي. دا چې زموږ د ښاروالیو پولې ندي پراخې شوې، دغه حالت د شته ځمکو په حدودو کې پراختیا له محدودیتونو سره مخ کړې،دغه موضوع په غیر ضروري ډول د کورنو د بیعو د لوړیدو لامل شوې دی. د اراضی او د سیمه ییزه ارګانونو اداري باید د ښاروالیو د اوسنیو پولو د ارزونې او د اړتیا پر مهال د بیاځلي نښې اېښودنې پروګرام ترلاس لاندې ونیسي.

**شپږم**، د کابل ښاروالۍ د صلاحیتونو په اړه دی بیاځلي غور وشی. موږ به د هغې ځانګړی وضعیت په نورو ښاروالیو کې لغو کړو. همدارنګه مونږ به د کابل ښاروالۍ صلاحیتونه غیر متمرکز او په څو حوزو تبدیل کړو، د کابل ښاروالۍ به په څو ښاروالیو تقسیم شی چې هره ښاروالۍ به ځانګړې ښاروال ولري او په دی ډول به ښاروالۍ له خلکو سره له نژدې کار وکړي. د کابل والي به د همغږي کوونکي صلاحیت ولري او د مرکز زون د پراختیا اداره به د یوه پراختیایی بنسټ په ډول عمل وکړي. موږ به د ټولو ښکېلو لوریو د مسؤولیتونو او رولونو د مشخص والي په موخه، د ښاروالیو په نوي قانون کې دکوڅو وکیلان (دګزر وکیلان) او نورو سیمه ییزه جوړښتونو رول مشخص کړو.

اووم، موږ د ټولنیز کور پروګرام چمتو او ترتیبوو. د ښار او کور جوړولو وزارت باید په افغانستان کې د کور د غوښتنو په اړه یوه مطالعه ترسره او د ټولنیز کور پلان چمتو او ترتیب کړي. یاد وزارت به دغه پلان د نوي دولتي شرکت او یا هم د دولتي کور جوړونې تصدی شرکت له لارې تطبیق کړي.

## (۵) کلي:

افغانستان د کلیو او سیمو په کچه د ولسونو د پراخه ګډون په برخه کې ډېرې بریاوې لري، دغه بریاوې د ملي پیوستون پروګرام او د هغه ځای ناستي ولسي تړون پروګرام په پایله کې ترلاسه شوې دي، د دغو پروګرامونو په ترڅ کې موږ وکولای شول، چې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې له ۴۵۵۳۸ څخه زیاتو کلیو ته یو نیم میلیارد ډالره

بلاعوضه مرسته چمتو کړو.




د ولسي تړون نوی پروګرام د دولت او ټولنې ترمنځ يوه ګډه ژمنه ده، چې په واقعيت کې د دولت د پرمختيايي ليدلوري د تحقق لپاره د بنسټ ډبره ګڼل کيږي. په ټوليز ډول، دغه پروګرام د مشروعيت او له خو ټوټو څخه د مخنيوي لپاره د دولت هڅه او هاند دی. ولسي تړون د ټولنيزو لومړيتوبونو پر بنسټ هر هيوادوال ته د اساسي خدمتونو وړاندې کولو لپاره يوه ژمنه ده. د لومړي ځل لپاره به د افغانستان ښاري او کليوالي پرمختيايي پروګرامونه تر يوه چتر لاندې پلي شي.

د افغانستان د ولسي تړون پروژه، د ولسي تړون لومړيتوب لرونکي ستر ملي پروګرام يوه برخه ده.

له همدې امله لازمه ده، چې د افغانستان له اقتصادي او سياسي پرمختيا سره د مرستې لپاره، د ولسي تړون پروګرام جوړښت کې بدلون راشي.

لومړی دا، چې که د ولسي تړون پروګرام پر يو دوامداره پروګرام بدل شي، بايد د ولسي تړون چوکاټ، مالي کټې د پروژو ارزونې بهير د يوې برخې په توګه په پام کې ونيول شي.

دويم، دغه پروګرام بايد د هر کلي په سترو ګروپونو کې مدغم او دغو سترو ګروپونو لپاره لويې بلاعوضه مرستې چمتو کړي.

دغه بهير د ولسی تړون د پروګرام سره مرسته کوي چې تر څو د ولسواليو، ولايتونو او د زون لوی پروګرامونه سره همغږي کړي

دريم، دغه پروګرام بايد د کرنې سکتور په ملاتړي طريقې کې بدلون راولي. دلته بايد پروګرام له هغو پروژو څخه ملاتړ وکړي، چې د حبوباتو (لکه غنم) له کښت سره مرسته کوي، د امکان په صورت کې دې د تخمونو د توليد پر ښه‌والي، د هغو پر حاصل او همدارنګه د کرنيزو کوپراتيفونو پر جوړولو او ملاتړ تمرکز وکړي.

د هيواد د کليو حکومتوالي د حکومتوالی د لاندې جوړښتونو له لارې اداره کيږي:

- **ملک:** د کلی په کچه د دولت يوازينی کارکوونکي استازی دی. ملکان د مړينې او زېږون وثيقو د صادرولو په شمول، د کليو د اداري چارو ترسره کولو مسؤليت لري. دغه ملکان د ټولنې د پرمختيايي پروژو په پلي کولو کې کوم رول نه لري. ملکان د سيمه ييزه ارګانونو اداري له لوري د سيمې د پرمختيايي شوراګانو، مخورو او سپين ږيرو په مشوره ټاکل کيږي.

- **سيمه‌ييزه پرمختيايي شورا:** د کلي په کچه د استازيتوب يو بنسټ دی، چې د سيمې د پرمختيا پر پلان جوړونه،

د سیمه ییزه پروژو پر تطبیق او د دولتي خدماتو وړاندې کولو باندې پر څارنه بوختـه ده. د دغې شورا غړي د ولسي ټرون او ملي پیوستون پروګرامونو له لارې ټاکل کېږي.

## د سیمه ییزې حکومتولۍ پروړ اندې ننګونې:

موږ د سیمه ییزې حکومتولۍ د پلي کول په چاره کې له یو لړ ننګونو سره مخ یو. دغه ننګونې په عمومي توګه په اساسي قانون کې د تعریف شویو اصولو له شتوالي څخه را څرګندیږي. موږ دغه ننګونې د حکومتولۍ او بیخبناوو (زیربنایي) ننګونو په توګه تشخیص کړي، چې په ټوله کې نهه د حکومتولۍ ننګونې او درې هم جوړښتي ننګونې دي او په لاندې توګه ورنه یادونه شوې ده:

## د سیمه‌ییزې حکومتولۍ د ننګونو لنډیز:

| ننګونې | لنډیز<br>حکومتوالۍ |
|---|---|
| (۱) د سیمه‌ییزې اداري حقوقي چوکاټ | د سیمه‌ییزې حکومتولۍ لپاره ( او قانوني )مناسب نه دی. په دې برخه کې اړوندو قوانینو: (۱) د سیمه ییزه ادارو قانون (۲) د ولایتي شوراګانو قانون(۳) د ښاروالیو قانون شاملېږي. |
| (۲) سیمه‌ییزې ټاکنې | ټاکنې باید د ولسوالیو او ښاروالیو په کچه ترسره شي. د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې به د ۲۰۱۸ م کال په پای کې ترسره شي. له هغه وروسته به د ښاروالیو قانون له مخې د ښاروالیو او د ښاروالیو مجلس ټاکنې هم وشي. |
| (۳) امنیت | له تاریخي پلوه، پولیس د فساد سرچینه او تل د خلکو د نه رضایت لامل وه. موږ باید د کورنیو چارو وزارت پر جوړښت له سره کتنه وکړو او پولیس بیاخلي وروزو، تر څو دندې یې له ترهګرۍ سره د مبارزې پر ځای، د هېوادوالو د امنیت او عدالت تامینولو ته رابدلې شي. |
| (۴) دقانون حاکمیت | د قانون حاکمیت ټینګښت د دولت له اساسي موخو څخه ده. دغې موخې ته رسېدل، د افغانستان په هر ولایت کې د قاضیانو او د لویې څارنوالۍ عادلو او ور استازیو په شتوالي پورې تړلی ده. |
| (۵) د سیمه‌ییزې حکومتولۍ تمویل | شته قوانین یوازې ښاروالیو ته اجازه ورکوي، چې د خپلو خدمتونو په بدل کې عواید ولري، په داسې حال کې، چې په ولایتونو او ولسوالیو کې نور سیمه‌ییز بنسټونه عواید نه لري. د وخت په تېریدو سره به هڅه وکړو، چې سیمه ییزه بنسټونو ته د خپلو خدمتونو په بدل کې د عوایدو راټولولو اجازه ورکړل شي. له دې سربېره په پام کې لرو، چې د هر سیمه ییز بنسټ په کچه تشویقي مالي مرسته ځانګړې کړو. |
| (۶)د ډلبندۍ(تقسیم بندي)استراتیژي | اوس مهال ولایتونه او ښاروالۍ د نفوسو او د هغوی د هر یو د اقتصاد په اړه د لومړنیو معلوماتو پر بنسټ ډلبندي شوی دي، دغې ډلبندۍ څخه به د لمړنی بودجې لپاره استفاده وشي. خو موږ به دهرې سیمه‌ییزې اداري لپاره له دې څخه هم څو برابره تولیزه طرحه چمتو کړو، چې له هغې څخه د تشویقي مالي مرستې په برخه کې استفاده وشي. په دغه ډلبندۍ کې به سیاسي، اقتصادي او ټولنیز شاخصونه هم شامل وي. |
| (۷) د خدمتونو ور اندې کول | د خدمتونو وړاندې کولو اوسنۍ بڼه کارنده او اغېزناکه نه ده. موږ به د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د خدماتو وړاندې کولو بڼې د تدریجي ښه‌والي په شمول په ټولو کچو کې د خدمتونو وړاندې کولو بڼې کې ښه والی راولو. په دغه موضوع کې د امنیت او عدالت ټینګښت، د روغتیایي خدماتو وړاندې کول، پوهنه او له فرهنګي ځایونو څخه ساتنه شاملېږي. |
| (۸) ټولنیزګډون | د ولایتي شوراګانو شتوالي د هېوادوالو ګډون ته زمینه برابروي. په دغه کال کې به موږ د ولسوالیو شوراګانې هم تشکیلوو او له داسې میکانیزمونو څخه به استفاده وکړو، چې پر بنسټ یې د ټولنیز ګډون په کچه او کیفیت کې ښه‌والی راشي. په دغې موضوع کې به د سیمه ییزه ادارو د فعالیتونو په اړه د هېوادوالو ارزونه هم شامله وي. |
| (۹) انساني پانګه | د اداری اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون به د سیمه‌ییزه ادارو کارکوونکو لپاره تخصصي روزنیز پروګرامونه او همدارنګه د هغوی د مسلکي تګلورې د پرمختګ لپاره د ولایتونو او ولسوالیو د ادارو چلوونکو د دوراني تبدیلي پروګرامونه چمتو کړي تر څو وکړای شي د مختلفو زونونو په کچه په دوراني ډول دندې تر سره کړي. |

| چالش ها | خلاصه<br>بيخبناوي ( زيربناوي) |
|---|---|
| (۱)د حکومتولۍ بيخ بنسټونه (زيربناي) | په هره ولسوالۍ کې د قانون حاکميت پراختيا، د امنيت ټينګښت او حکومتولۍ عملي کول د دولت حضور ته اړتيا لري. موږ بايد په دې برخه کې اساسي بيخبناوې چمتو کړو، چې له دې سره به امنيتی، عدلی اوقضای او د وزارتونو استازولۍ د سيمهييزې حکومتولۍ په هره برخه کې شتون ولری . |
| (۲) بيخبنايي شتمنۍ | • **بريښنا:** د بريښنا تأمين تر ټولو مهمه بيخبنا(زيربناء) ګڼل کېږي. موږ په چټکۍ سره د افغانستان له برېښنا شبکې سره د هېواد د ټولو ولايتونو د نښليدو په حال کې يو. يوازې د څو مياشتو په ترڅ کې نهه ولايتونه د افغانستان له بريښنا شبکې سره ونښلول شول. موږ پلان لرو، چې تر ۲۰۲۰م کال پورې ټول ولايتونه د افغانستان له بريښنا شبکې سره ونښلو. د ډېرو لرو پرتو سيمو لپاره مو د غير متصلو شبکو (له شبکې سره منفصل) ستراتيژۍ طرحه کړې ده.<br><br>• **ترانسپورت:** اړتيا ده څو ټول ولايتونه د خوندي او آسانه ترانزيټي مسيرونو له لارې د هېواد له نورو سيمو سره ونښلول شي. دغه موضوع زموږ د مواصلاتي اتصال سراتيژي له عمده عناصرو څخه ګڼل کېږي. |
| (۳)د طبيعي سرچينو مديريت | • **ځمکه:** د ښاروالیو او کليو پولې او سرحدونه بايد په څرګنده توګه وټاکل او نښه کړای شي. د دغه اقدام له ترلاس لاندې نيولو پرته به ښاروالۍ د عوايدو راټولولو او يا د ښاري خدماتو وړاندې کولو وړتيا ونه لري. د افغانستان د ځمکې خپلواکه اداره بايد د ۲۰۱۹م کال تر پايه ټولې پولې وټاکي او نښه يې کړي.<br><br>• **اوبه:** افغانستان پنځه عمده د اوبو حوزې او ۴۵ د اوبو مرستيالې سرچينې لري. د اوبو دغه حوزې بايد د زون پرمختيايي ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه په سم ډول اداره شي.<br><br>• **کانونه:** د کانونو ترونونه د مرکزي حکومت لهخوا خو د هغو مديريت په سيمهييزه بڼه ترسره کېږي. موږ بايد په ځانګړې توګه کان لرونکو ولسواليو کې، د دغو سرچينو د اغېزناک مديريت لپاره د کانونو او پټروليم وزارت او اړوندو سيمه ييزه ادارو وړتياوې لوړې کړو.<br><br>• **ځنګل ساتنه:** د کانونو په څېر د ځنګلونو پانګې هم له مهمو طبيعي سرچينو څخه دي، چې په سيمهييزه کچه اداره کېږي. موږ به د دغو سرچينو د اغېزناک مديريت په موخه د اړوندو وزارتونو او سيمه ييزه ادارو وړتياوې لوړې کړو. |

موږ به د دغه ډول ننګونو د تدريجي له منځه وړلو لپاره يو چوکاټ طرحه کړو. کولی شو په نسبتاً کم وخت کې په دې برخه کې د اړتيا وړ پاليسی طرحه کړو، په احتمالي ډول به د حکومتولۍ پر وړاندې د ننګونو له منځه وړلو بهير په چټکۍ سره ترسره شي. خو د بيخبنايي چارو پر وړاندې محدوديتونو د له منځه وړلو بهير به په احتمالي توګه ورو وي. ځکه، چې د دولتي او سترو بيخبنايي پروژو تطبيق به وخت وغواړي. د دغو ننګونو په اړه اړين تفصيلات په لاندې ډول وړاندې شوي دي:

## د حکومتولۍ پروړ اندې ننګونې

**•د سیمه‌ییزې حکومتولې په برخه کې قانون‌جوړونه:** اوسمهال افغانستان د سیمه‌ییزې حکومتولۍ په برخه کې درې قانونه لري، چې سیمه‌ییزه حکومتولي تعریفوي. لومړی قانون دسیمه‌ییزې ادارې قانون دی، چې د سیمه ییزه ارګانونو ادارې او نورو سیمه ییزه ادارو مسولیت د سیمه ییزه حکومتولۍ په اړه تعریفوي.دا، چې دغه قانون څو لسیزې مخکې تدوین شوی، بیاکتنې ته اړتیا لري. دویم قانون، چې دسیمه ییزو شوراګانوقانون ولایتی، ولسوالۍ او کلیو شوراګانو رول او مسؤلیتونه تعریفوي. دریم هم د ښاروالیو د ۱۳۷۹ هـ ش کال قانون دی، چې د ښاروالیو دندې او مسؤلیتونه تشریح کوي. دغه قوانین به تر بیاکتنې وروسته نوي شي.

**• سیمه‌ییزې ټاکنې:** افغانستان یو متمرکز حکومتي نظام لري، په دې معنې، چې د والیانو د تقرر او ګوښه کیدو چارې د جمهور رئیس له خوا ترسره کېږي. دغه هېواد د ولایتي شوراګانو قانون تصویب کړی، چې پر بنسټ یې د ولایتي شوراګانو ټاکنې د تأیید وړ ګرځي او د هغه مطابق په ۲۰۱۸ م کال کې د ولسوالیو شوراګانو ټاکنو له ترسره کیدو څخه وړاندوینه شوې ده. سربېره پر دې، د افغانستان اساسي قانون د حکمونو له مخې، د وخت په تېریدو سره، ښاروالان هم باید د ټاکنو له لارې غوره شي. دغه چاره په خپل ذات کې یو واحد سیستم رامنځته کوي، چې د وخت په تېریدو سره به د هغه په وسیله منتخب ښاروالاون او د ولسوالیو او ولایتي منتخبې شوراګانې ولرو، اما والیان او ولسوالان به د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي.

**• امنیت:** د قانون پر حاکمیت سربېره، د امنیت ټینګښت هم د دولت له کلیدي مسوولیتونو څخه ګڼل کېږي. د سیمه ییزه ارګانونو اداره به ټول امنیتي موضوعات له مرکزي امنیتي ارګانونو سره همغږي کوي.

**• د قانون حاکمیت:** په ټول هېواد کې د قانون حاکمیت عملي کولو او د عدالت ټینګښت څخه د داړ ترلاسه کولو لپاره باید ټولو ولسوالیو کې هم د سترې محکمې او هم د لوپې څارنوالۍ استازولۍ رامنځته شي. سره له دې، چې دغه ادارې له پخوا څخه د اړونده ادارو په تشکیلاتي جوړښت کې شاملې وې، خو د امنیتي ستونزو له امله تر اوسه ځینو ولسوالیو ته پرسونل نه دی استول شوی، له همدې امله په ټولو ولایتونو کې د سترې محکمې او لوپې څارنوالۍ برخه کې د استازیو (کارکوونکیو) له ګمارنې څخه د داړ ترلاسه کولو لپاره باید په دغو ولسوالیو کې لازم امنیت ټینګ کړو.

**• مالي تمویل:** اوسني مالي سیستم سیمه ییزه ادارو ته اجازه نه ورکوي څو مالي وجه د خپلو اړوند ولایاتو، ولسوالیو او ښاروالۍ د پرمختیا لپاره را ټوله کړي. له همدې امله موږ د سیمه‌ییز مالي تمویل په برخه کې دوه بدلونونه عملي کوو؛ لومړی دا چې د سیمه ییزه ارګانونو ادارې په رهبرۍ مالي سرچینې د زون، ولایت، ولسوالۍ او ښاروالۍ په کچو کې تخصیصوو. دویم دا چې اوسني مالي قوانین او طرزالعملونه (له ښاروالیو پرته) په هیڅ ډول سره یوې سیمه ییزې ادارې ته د عوایدو ترلاسه کولو اجازه نه ورکوي. په هرحال، موږ به هڅه وکړو، چې په تدریجي ډول په مثبتو او سالمو بدلونونو سره د ولایتونو او ولسوالیو په شمول سیمه ییزه ادارو ته د عواید ترلاسه کولو اجازه ورکړو. د عواید ترلاسه کولو صلاحیت په هغه صورت کې تر لاسه کولې شي چې وضع شوي شرایط پوره کړي .

**• د سیمه‌ییزې ډلبندۍ استراتیژي:** د سیمه ییزې حکومتولۍ له قانون سره سم، هر ولایت، ولسوالۍ او ښاروالۍ په لومړۍ، دویمه او دریمه درجه باندې ډلبندي شوي. دغه ډلبندي د اړتیا وړ سرچینو په تخصیص کې د استفادې

ور ګرځي. له دغې ډلبندۍ سربېره به په بېلابېلو معیارونو سره د امتیاز ورکوونې یو کارت چمتو کړو، چې د هغه پر بنسټ د سیمه ییزې ادارې د امتیازاتو کچه وسنجول شي. د امتیاز ورکوونې له دغه کارت څخه به د سرچینو د تخصیص لپاره د سیمه ییزه ادارو د ډلبندۍ په موخه استفاده وشي.



• **د خدمتونو وړاندې کول:** اوس مهال یوازې مرکزي حکومتي ادارې او ښاروالۍ د خدمتونو وړاندې کولو صلاحیت لري. د وخت په تېرېدو سره به سیمه ییزه ادارو ته د عاید ترلاسه کولو صلاحیت په ورکولو سره، دغو ادارو ته د خدمتونو وړاندې کولو صلاحیت هم ورکړل شي.

• **ټولنیز ګډون:** ولایتي شوراګانې او همدارنګه به په نږدې راتلوونکې کې د ولسوالیو شوراګانې هم په سیمه ییزه حکومتولۍ کې هېوادوالو ته د ګډون فرصت برابر کړي. په هرحال، موږ به داسې تګلارې په پام کې ونیسو، چې پر بنسټ یې وکولی شو د ټولنیز ګډون د بیاکتنې او راپور ورکوونې بهیرونو کې ښه‌والی راولو.

• **انساني پانګه:** د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون به د سیمه ییزې حکومتولۍ په برخه کې د ملکي خدمتونو د کدرونو روزنې لپاره، د یوه پروګرام طرحه چمتو او ترتیب کړي. همدارنګه به کمیسیون په سیمه‌ییزو ادارو کې پر دنده بوختو د ملکي خدماتو کارکوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره، له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د دوراني تبدیلي پروګرام به چمتو کړي.

## بیخ‌بنسټیزې دننګونې:

• **دحکومتولۍ بیخ‌بنا (زیربناء):** دولت باید د ټول هېواد په کچه په هر ولایت کې د امنیت او عدالت د ټینګښت او د خدمتونو وړاندې کولو په موخه خپل حضور وساتي. له همدې امله به موږ د دغې چارې د تحقق په موخه، د سیمه‌ییز جوړښت پروګرام طرحه کړو. د سیمه ییزه ارګانونو اداره به په دې برخه کې د اړتیا سنجونې یوه ارزونه ترسره کړي؛ خو د لازمو بیخ بناوو پلي کېدل د ښار او کورجوړونې وزارت پر غاړه وي.

• **بیخ‌بنسټیزې پانګې:** موږ به په دې برخه کې هر ولایت ته اساسي بیخ بنسټیزې پانګې چمتو کړو. په دغه چاره کې به د افغانستان له برېښنا شبکې سره د هر ولایت نښلول او یوه لویه لار وي، چې پر مټ یې یو ولایت له بل سره ونښلول شي، یوازې له همدې لارې ده، چې موږ به وکولی شو د افغانستان ولایتونه یو بل سره ونښلوو او د ترانسپورتي لېږد رالېږد او برېښنا لېږد مرکز په توګه خپل موقعیت ومومو.

• **د طبیعي سرچینو مدیریت:** د طبیعي سرچینو اغېزناک مدیریت له دغه ډول سرچینو څخه د پوهاوي او د هغو د مدیریت په اړه د سیمه ییزه ادارو د دفترونو ورتیاوو ته اړتیا لري. د افغانستان د ځمکې خپلواکه اداره باید ژر تر ژره د ولایتونو او ولسوالیو د پولو ټاکلو او نښه کولو کار ترسره کړي. د اوبو او برېښنا او د کانونو او پټرولیم وزارتونه باید د طبیعي سرچینو (کان کیندنه او کرنه) په برخه کې لازیاتې سرچینې ولسوالیو ته ځانګړې کړي. د کرنې او اوبو لګولو وزارت باید زموږ د ځنګلي شتمنیو د مدیریت په بڼه کې ښه والی راولي.



په لومړي ګام کې، شته ننګونې دغه ټکی بیانوي، چې افغان حکومت تر اوسه

په دی ندې توانېدلې، چې په ځینو ولسوالیو کې حکومتولي عملي کړي. په نتیجه کې د قانون حاکمیت، د امنیت ټینګښت، د خدماتو وړاندې کولو او ټولنیز ګډون موضوع ګانې د افغانستان په ډېری ولایتونو کې نه دي پلي شوي. نادولتي لوبغاړي هڅه کوي، چې د قدرت خلا چې دولت ندې توانیدلې ډکه کړي. په پام کې لرو، چې په تدریجي ډول د حکومتولۍ او د بیخ بنایي چارو پر وړاندې ټولې ننګونې له منځه یوسو.

## د سیمه‌ییزې حکومتولۍ حقوقي چوکاټ:

د سیمه‌ییزې حکومتولۍ په برخه کې د ټولو مسؤلو بنسټونو او ادارو د دندو او مقررو تشخیص لپاره یو ټولیز حقوقي چوکاټ ته اړتیا ده. اوس مهال افغانستان د سیمه‌ییزې حکومتولۍ په برخه کې درې قانونه لري، چې سیمه‌ییزه حکومتولي تعریفوي. لومړی قانون د سیمه‌ییزې اداري قانون دی، چې د سیمه‌ییزې حکومتولۍ پر وړاندې د مرکزي اداري او نورو سیمه ییزه ادارو مسؤلیتونه تعریفوي. دا چې دغه قانون څو لسیزې مخکې تدوین شوی، بیاکتنې ته اړتیا لري. دویم قانون، د ولایتي شوراګانو قانون دی، چې په دی ورستیو کې تصویب شوی دی او ددغو شورا ګانو د چوکاټ څرنګوالې تشریح کوي. درېیم قانون هم د ښاروالیو د ۱۳۷۹ هـ ش کال قانون دی، چې د ښاروالیو دندې او مسؤلیتونه تشریح کوي. دغه قوانین به تر بیاکتنې وروسته نوي شي. دوه وروستي قانونونه د بیاکتنې او نوي کیدو په حال کې دي.

د ولایتونو او ولسوالیو په کچه، د بېلابېلو اداري واحدونو د مسؤلیتونو او دندو د تعریف په اړه کوم ترتیب شوی قانون یا مقرره نشته. د دغې عمده لامل د افغان حکومت د متمرکزوالي تاریخي جوړښت دی، چې پر بنسټ یې پخوا سیمه‌ییزې حکومتي اداري یوازې د کورنیو چارو وزارت له‌خوا اداره کیدې.

موږ به د سیمه ییزې حکومتولۍ جوړښتونو د مناسب پرمختګ لپاره دوه قوانین (د سیمه ییزې اداری قانون او د ښاروالیو قانون) بیا کتنه او د سیمه ییزه شوراګانو قانون به تسوید کړو، د ښاروالۍ قانون په برخه کې به د پنځه هېوادونو د پنځو ښاروالیو موډل په پراخه توګه مطالعه کړو او د ښاروالۍ په نوي قانون کې به د ښاروالۍ په اداری جوړښت، پلان‌جوړونې، له ځمکې څخه د استفادې، مالي میکانیزمونه، د بیخ‌بناوو چمتو کولو تګلارو او د خدماتو وړاندې کولو میکانیزمونو کې بدلونونه را منځته کړو.

مونږ به په ځانګړي ډول نوي قوانین، د سیمه ییزه شوراګانو قانون د سیمه ییزه ادارو قانون چې د ولایت او ولسوالۍ د اداري دندی او مسؤلیتونه په بر کې نیسي تصویب کړو. د شوراګانو قانون، ولایتی، ولسوالۍ، د کلیو شورا او ښاروالیو ته شاملېږی او همدارنګه به د ولسوالیو شورا راتلونکیو ټاکنو ته یو چوکاټ را منځته کړي. دوه نور قانونه به د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د مسؤلینو دندې او مسؤلیتونه تعریف کړي .

## د حکومت اړتیا وړ اصلاحات:




د دغې پالیسۍ د پلي کېدو لپاره په حکومت کې یو لړ اصلاحاتو ته اړتیا ده. تر ټولو د اړتیا وړ اصلاح، د مرکزي حکومت د وزارتونو او ولایتي ادارو د اړیکو بیاځلي تعریف دی. په لومړي ګام کې د داسې یو موډل په لټه کې یو، چې په هغه د مرکزي حکومت وزارتونه پر پالیسۍ جوړلو تمرکز ولري، زون پرمختیایي اداري به د پروژو د پلي کېدو مسؤلې وي او سیمه‌ییزې اداري به د همغږۍ کوونکو رول پر غاړه ولري. تمه کېږي، چې د وخت په تېریدو سره سیمه‌ییزې اداري د عوایدو په زیاتوالي او په مستقیم ډول د پروژو په پلي کیدو کې د پام وړ رول ولري.

په دویم ګام کې، به موږ د جمهوري ریاست، سیمه ییزه ادارو او د سیمه ییزه ارګانونو اداري، د واحدونو ترمنځ اړیکې په پام کې ونیسو. جمهوري ریاست د سیمه ییزه ارګانونو اداري له لارې سیمه‌ییزې اداري اداره کوي. د سیمه ییزه ارګانونو اداره، له کورنیو چارو وزارت څخه د ملکي برخې په را جلا کولو، په ۲۰۰۷ م کال کې رامنځته شوه. دغه اداره ۳ معینیتونه، ۱۹ ریاستونه، او شپږ ملي پروګرامونه د سیمه‌ییزې حکومتولۍ لپاره لري. په سیمه ییزه کچه یاده اداره ۳۴ د والیانو دفترونه، ۳۸۷ د ولسوالیو دفترونه، ۱۶۵ ښاروالۍ او ۳۴ ولایتي شوراګانې لري.

په پام کې ده، چې د وخت په تیریدو سره سیمه ییزه ادارو ته لازیاته خپلواکي ورکړل شي که څه هم دغه خپلواکي باید د هڅونې جوړښتونو سره په مطابقت کې وي. که دغه کار په سمه توګه ترسره نه شي، زیاته خپلواکي کولی شي داسې ننګونې رامنځته کړي، چې افغانستان له هغې سره د غیر متمرکز کولو په پروسه کې مخ وه.

په پایله کې به دغه ستراتیژۍ هغه معیارونه رامنځته کړي، چې پر مټ یې سیمه‌ییزې اداري ارزول کېږي. ښاروالۍ، ولسوالۍ او ولایتونه به د تشویقي مالي مرستې له لارې له دغو معیارونو سره د عیاریدو په موخه لازمه مالي مرسته ترلاسه کړي. موږ به له دې پروسې څخه د ښاروالانو ټاکنو د تشخیص په موخه، څرنګه، چې په اساسي قانون کې صراحت لري، ګټه واخلو. که چېرې سیمه‌ییزې اداري زیاته خپلواکي ترلاسه کړي، په اصل کې به دغه بهیر دسیمه ییزه ارګانونو اداري د تشکیل د کموالي لامل شي.

په عین حال کې، د سیمه ییزه ارګانونو اداره باید په سیمه ییزه کچه دحکومت اساسي دندو پلي کېدلو په خاطر، ورتیاوې لوړې کړي، ځینې دغه دندې لکه د جمهوري ریاست اداري کنټرول (د سیمه ییزه ارګانونو اداري له‌خوا) د تطبیق په برخه کې اصلي مسوولیت لري. د سیمه ییزه ارګانونو اداره به د امنیت او د هېوادوالو حقونو د تینګښت او د یو مارکیټ رامنځته کولو په څېر د نورو مسؤلیتونو ترسره کولو په برخه کې تر ډېره د یو همغږۍ کوونکې او د آسانچاري رول ولوبوي. خو دغه دندې باید د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکې اداري د سرچینو او تشکیل د پراختیا لامل نه‌شي.

## وړ انديزونه/ وروستي قدمونه

دغه تګلاره هغه ستراتيژۍ بيانوي، چې د افغانستان د سيمه ييزه ادارو د کړنو ښه والي لپاره ورنه استفاده کېږي. موږ خپل وړانديزونه په اوو کليدي برخو کې بيانوو:

(۱) د هرې سيمه‌ييزې ادارې د مسؤليتونو د مشخصولو په موخه د اړتيا وړ قوانينو طرحه (۲) د قانون حاکميت او له فساد سره د مبارزې عالي شورا تر سيوري لاندې د سيمه‌ييزې حکومتولۍ د يوې کميټې رامنځته کول (۳) د ولايتونو او ولسواليو د پولو د تشخيص په اړه د ملي مشورې بهير رامنځته کول (۴) په هره اړونده زون کې د پروژو د پراختيا او تطبيق په موخه د اوو زونونو پرمختيايي ادارو رامنځته کول (۵) د تشويقي مالي مرستې، اضافه کارۍ او سيمه ييزه ادارو ته د عوايدو زياتلو اجازې ورکول په شمول د سيمه ييزه مالي اصلاحاتو تطبيق (۶) د افغانستان په هره ولسوالۍ کې د حکومت له شتون څخه ډاډ په موخه د يوې سيمه ييزې رغنيزې پروژې رامنځته کول (۷) د يوې سيمه ييزې بشري سرچينې د پراختيايي پروګرام رامنځته کول. نور جزئيات په لاندې ډول دي:

• **د اړتيا وړ سيمه ييزه قوانينو تسويد:** د سيمه ييزه ادارې او ښاروالیو قوانينو بيا کتنه او د سيمه ييزه شوراګانو د قانون تسويد به لاندې اړونده موضوع ګانې روښانه کړي: (۱) د ټولو سيمه ييزه کارکوونکو د دندو او مسؤليتونو روښانه کول (۲) د ولايتونو او ښاروالۍ دډلبندۍ لپاره يو نوی چوکاټ تهيه کول (۳) د زونونو، ولايتونو، او د ولسواليو په کچه د هڅونې مالي بودجې رامنځته کولو د قوانينو بنستيزول او ترتيب.

• **د سيمه‌ييزې حکومتولۍ کميټې تشکيل:** د سيمه ييزه ارګانونو اداره به په ۱۳۹۷ هـ ش مالي کال کې د سيمه ييزه حکومتولۍ په اړه د قانون د حاکميت او اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا تر نظر لاندې رامنځته کړي، د دغې کميټې رياست به د سيمه ييزه ارګانونو خپلواکې ادارې له لورې مخته وړل کيږي او غړي به يې: د ماليې، اقتصاد، د کليو بيارغاونې او پراختيا، ښار او کور جوړولو وزارتونه، د ځمکې خپلواکه اداره او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون وي. دغه کميټه به د قانون د حاکميت او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا ته د حکومتولۍ اړوندې ستونزې، ځايي رغانيزې موضوع ګانې، تشويقي مالي مرستې او اوسني وړانديزونه مشخص کړي.

• **د ولايتونو او ولسواليو د پولو د بياځلي مشخصولو په اړه د ملي مشورتي بهير ترسره کيدل:** اوس مهال د سرحدونو په نقشه کې د ولايتونو او ولسواليو تر منځ د نفوسو توازن وجود نه لري. د سيمه ييزه ارګانو اداره بايد د ولايتونو او ولسواليو پولې او د نفوسو د مساواتو اصل معلوملولو په مقصد د ذيدخله خواو سره مشورتي بهير پيل کړي. د سيمه ييزه ارګانونو اداره بايد په دې موخه ادارو ته معيارونه او معياري بهيرونه چمتو کړي. دغه اداره بايد د ولايتونو او ولسواليو ترمنځ د سرچينو د تخصيص په برخه کې د تر ټولو کم نفوس او مساوات معيارونه په پام کې ونيسي. له دې سربېره د ځمکې اوسيمه ييزه ارګانونو ادارې بايد د ښاروالیو بياځلي تقسيم بندي پيل کړي.

• **د زون پرمختيايي ادارو رامنځته کول:** موږ به په اقتصادي پلان جوړونه او همغږۍ کې د ښه والي راوړلو په موخه، اوه د زون پرمختيايي ادارې جوړې کړو. دغه د زون پرمختيايي ادارې به د جلا اداري واحد په توګه نه؛ بلکې د دولتي شرکتونو په بڼه رامنځته شي. د زون پرمختيايي ادارې به خپل فعاليتونه له وزارتونو او سيمه ييزه ادارو سره همغږي کړي. د زون پرمختيايي ادارو يو کليدي هدف له تطبيق څخه د پاليسۍ جلا کول له عملياتي برخې

څخه دي، یعني داچې اړوند وزارتونه به په پالیسۍ جوړونه تمرکز ولري او د زون پرمختیایي ادارې به د پروژو پر پلي کولو تمرکز ولري.

• **د سیمه ییزو مالي اصلاحاتو تطبیق:** په سیمه‌ییزه کچه د اصلاحاتو رامنځته کولو د هڅونې لپاره به د سیمه ییزه ارګانونو اداری په رهبرۍ درې دوله تشویقي مالي مرستې ترتیب شي:

(۱) د زون مالي تشویقي مرسته (۲) ولایتي تشویقي مرسته (۳) د ولسوالۍ مالي تشویقي مرسته. دغه مالي وجوهات به دسیمه ییزه ادارو له خوا د مشخصو وړاندې شوو پروپوزلونو پر بنسټ ځانګړې شي. دغه بهیر داسې دی، چې هره سیمه‌ییزه اداره به د خپلو پروژو پروپوزلونه د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکې ادارې ته وړاندې کړي، وروسته به دغه اداره پروپوزلونه د بودجې د تخصیص له وړاندېز سره د قانون حاکمیت او له فساد سره د مبارزې عالي شورا ته وړاندې کړي. د وخت په تېرېدو سره به داسې موډلونه پلي کړو، چې پر مټ يې ولایتونه او ولسوالۍ وکولی شي خپل عواید زیات کړي. د عوایدو د زیاتوالي وړتیا په بېلابېلو لاملونو پورې تړاو لري ( سیاسي، اقتصادي او ټولنیز) د مالیې وزارت او د قانون د حاکمیت او اداری فساد سره د مبارزې عالی شورا له‌خوا به منظورېږي.

• **د سیمه ییزې حکومتولۍ د رغنیزو پروژو رامنځته کول:** موږ به په ولسوالیو کې د حکومت له شتوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د ۱۳۹۷ هـ ش کال تر پایه د ښار او کور جوړولو وزارت پر مټ یوه رغنیزه پروژه جوړه کړو. د سیمه ییزه ارګانونو اداره به خپلې غوښتنې او اړتیاوې وړاندې او د اړتیا وړ پروژو د تشخیص او تطبیق په برخه کې به د ښار او کور جوړولو له وزارت سره همغږي وکړي. ددغې پروژې هدف په هره ولسوالۍ کې د حکومت له موجودیت څخه د ډاډ ترلاسه کول دی.

• **د سیمه ییزه بشري سرچینو د پرمختیا پروګرام رامنځته کول:** موږ به د ۱۳۹۷ هـ ش کال له پای ته رسیدو مخکې د ملکي خدماتو هغو کارکوونکو ته، چې د سیمه‌ییزې حکومتولۍ په جوړښت کې کار کوي، د مسلکي پرمختګ مسیر اړونده روزنیز پروګرام وړاندې کړو. دا به یو د وړاندوینې وړ مسلکي پرمختګ یو داسې مسیر رامنځته کړي، چې د ملکي خدمتونو کارکوونکي به وکولې شي په مختلفو سیمه ییزه ادارو کې کار وکړي. دغه روزنیز پروګرام کې باید د ښځو له پرمختګ څخه د ملاتړ برخه هم شامله وي.

د دغو بدلونونو عملي کول به ننګوونکي وي؛ خو که په سم ډول پلي شي، دا وړتیاوې به ولري، چې د افغانستان په کچه د خدماتو په وړاندې کولو او حکومتولۍ کې ښه‌والی راولي. دغه سند د سیمه‌ییزې حکومتولۍ ښه‌والي لپاره د لارې نقشه وړاندې کړې ده. د سیمه‌ییزې حکومتولۍ شته جوړښت، د خدماتو وړاندې کولو د ښه‌والي پر وړاندې خنډونو،او د حکومتولۍ او بیخ بناو د پراختیا په وړاندې د خنډونو له منځه وړلو لپاره تګلارې او د خدماتو جوړښت تر بحث لاندې نیسو څو افغانانو ته د ښو خدماتو له وړاندې کولو څخه ډاډ ورکړل شي.

د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا د حکومتولۍ کمېټه به د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له خوا د دغې پالیسۍ له منظورۍ یوه اوونۍ وروسته، د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا ته یو داسې تطبیقي پلان وړاندې کړي، چې په کې به د فعالیتونو په اړه بشپړ وضاحت او همدارنګه د هغو د تطبیق زماني موده هم شامله وي.